# College Bound څه دی؟

collegebound.wa.gov
collegebound@wsac.wa.gov
(غوراوی 1) 888.535.0747

**د منځني ښوونځي زده کوونکي:** ایا په روغتیايي پاملرنه کې لېوالتیا لرئ؟ ساختماني چارو کې؟ د ویډیويي ګیمونو په ډیزاین کې؟ د ویډیويي ګیمونو په ډیزاین کې؟ ستاسو مسلکي موخې چې هر څه وي، College Bound کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي هغه ښوونځی ولولئ چې ستاسو لپاره مناسب دی او فیسونه یې ورکړئ! College Bound د Washington College Grant په خبر هغو وړ زده کوونکو ته د ایالتي مالي مرستې ژمنه ده چې د College Bound ژمنه پوره کوي. College Bound په Washington کې پر څه باندې 65 کالجونو، پوهنتونونو او تخنیکي ښوونځیو کې د زده کړې اوسط لګښت (د دولتي کالج په نرخ سره)، فیسونه او د کتابونو لپاره کم مقدار پیسې ورکوي. **آیا تاسو College Bound یئ؟**

## ایا زه وړ یم؟

- هغه زده کوونکي چې له لاندې اړتیاوو څخه یوه یې پوره کوي په اتومات ډول په College Bound پروګرام کې شاملېږي.
- تاسو په دولتي ښوونځي کې یئ او LPRF (Free and Reduced-Price Lunch, وړیا اود ټیټې بیې غرمنۍ) ته مو په اووم، اتم ټولګي کې نوم لیکنه کړې یا تازه په نهم ټولګي کې وړ شوئ یئ.
- تاسو د اووم ټولګي او له عالي لېسې څخه د فرافت تر منځ په ایالتي یا ایالت پورې اړوند روزنتون کې وئ.

## د 2024-25 د عاید لارښودونه

| د کورنۍ اندازه | کلنۍ عاید[1] | میاشتنۍ عاید | اونیز عاید |
|---|---|---|---|
| 2 | $37,814 | $3,152 | $728 |
| 3 | $47,767 | $3,981 | $919 |
| 4 | $57,720 | $4,810 | $1,110 |
| 5 | $67,673 | $5,640 | $1,302 |
| 6 | $77,626 | $6,469 | $1,493 |
| اضافي غړي[2] | $9,953 اضافه کړئ | $830 اضافه کړئ | $192 اضافه کړئ |

[1] د کورنۍ عاید باید له دغه مقدار څخه کم یا ورسره مساوي وي.
[2] د کورنۍ هر اضافي غړي لپاره، د ډالرو مقدار اضافه کړئ.

## د وړ کېدلو نورې لارې

- ځینې زده کوونکي په هېڅ یو حالت کې جوړ نه راځې خو غواړي College Bound ته غوښتنلیک واستوئ. د غوښتنلیک لپاره له پروګرام سره اړیکه ونیسئ، که:
- په Washington کې یو خصوصي یا د کورني ښوونځي پروګرام لولئ او د عاید اړتیاوې پوره کوئ.
- په یو بل ډولم پالنه کې یې او FRPL لپاره وړ نه یئ.

**که د FRPL لپاره وړ یئ، په خپل ښوونځي کې نوم لیکنه وکړئ او په اتومات ډول به College Bound کې ستاسو نوملیکنه وشي.**

## ژمنه څه ده؟

- که غواړئ له ښوونځي وروسته په مستقیم ډول په یوه څلور کلن کالج کې شامل شئ، د Washington له یو عالي ښوونځي یا د کورني ښوونځي له پروګرام څخه د 2.0 یا لوړې مجموعي GPA (Grade Point Average، د نمرو اوسط) په لرلو سره فارغ شئ.

**که غواړئ چې د ټولنې کالج یا تخنیکي لېسې ته ولاړ شئ، د عالي لېسې دورې د GPA کوم شرط نشته.**

- د خپلې لېسې دورې په وروستي کال کې او د کالج یا روزنې پرمهال هر کال له FAFSA (Free Application for Federal Student Aid، د زده کوونکو د فدرالي مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک) یا WASFA (Washington Apllication for State Financial Aid، د ایالتي مالي مرستې لپاره د Washington غوښتنلیک) سره د مالي مرستې غوښتنه وکړئ.
- هیڅ ډول جرمي محکومیت و نه لرئ.

## زه څنګه پوهېږم چې زه یو College Bound زده کوونکی یم؟

- د پوست له لارې به د College Bound تصدیق ترلاسه کړئ. که بل ځای ولاړ شئ یا خپل د اړیکې معلومات بدل کړئ، ډاډه شئ چې موږ ته معلومات راکوئ څو مهم معلومات ترلاسه کړئ.

## زه به څنګه د College Bound پیسې ترلاسه کړم؟

- د ژمنې اړتیاوې او د ایالتي استوګنې اړتیاوې پوره کړئ.
- د خپلې لېسې په وروستي کال او د کالج په هر کال کې د مالي مرستې غوښتنلیک ثبت کړئ. ستاسو کالج به وټاکي چې ایا تاسو د عاید اړتیاوې پوره کوئ او که نه.
- د یو وړ ښوونځي له لوري ومنل شئ او ویې لولئ - له 65 څخه زیات ښوونځي وړ دي!
- په خپل کالج کې په ښه درجه کې وئ.

**College Bound یو ایالتي تمویل شوی پروګرام دی چې د Washington Student Achievement Council له خوا اداره کېږي.**